مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهاند محمد بشیر دودیال ۲۰۱۸/۱۰/۲۵

# د طبیعی منابعو آفت
# Natural Resource Curse


پوهاند دودیال

طبیعي منابع، پنځیزې شتمنی یا د چاپیریال ثروت د یوې ټولنې، هیواد او خلکو لپاره هغه د ژوند ډیره قیمتي پانګه بلل کیږي، چې په هغو سره خپلې مادي او معنوی اړتیاوې پوره کوي، خو واقعیتونه ښیي چې ځینې وخت ځینو هیوادو او خلکو ته د دوی طبیعی زیرمې؛ شتمنی او د ژوند وسیله نه، بلکې لویه بلاء، آفت او لعنت ګرځي. دلته به لومړی په ډیر لنډ ډول طبیعي منابع وپیژنو:
د انسان شاوخوا هر هغه شی چې ده ته ګټه رسوي او په مساعدو شرایطو کې لاسته ورتلای شي (هغه ته لاس رسي ممکن وي)، ارزش ولري، منبع بلل کیږي. یعني هرهغه شی چې هغه ته لاسرسي ممکن نه وي او ارزش ونلري منبع نه بلل کیږي . په بله وینا طبیعي منابع ( Natural Resources) داسې هم تعریف شوي دي :

زمونږ په چاپیریال کې ټولې هغه ژوندې او نا ژوندې شتمنی چې دبشر په لاس نه، بلکې په قدرتي ډول د الهي تحفې په توګه زمونږ په شاوخوا کې لیدل کیږي اومونږ ته د پیژندلو او لاسرسي وړ دي. او یا په بل عبارت: طبیعي منابع اقتصادي سیستم ته د طبیعت او چاپیریال ارزښت ورکړې دي چې د بشر په رفاه کې مهم رول لوبوي.
د یادولو وړده چې د طبیعت اصطلاح زمونږ شاوخوا ټول چاپیریال را اخلي، خو منابع بیا د دغه ټول چاپیریال یواځې هغه ارزښت لرونکي توکي دي، چې اقتصادي وي او د استفادې ارزښت ولري؛ لکه نفتي مواد ، د ډبرو سکاره، ځمکه، اوبه ، لرګي ، فلزي او نورې قیمتي ډبرې ، کبان، نباتات او داسې نورې بېشمیره سرچینې او پیداوار.
د اقتصادي پرمختیا د تیورۍ له مخې؛ بدایه طبیعي منابع د پرمختیا او ټولنیزې هوساینې یو مهم عامل دی، خو حقایقو وښودله چې د ټیټ مُدیریتي ظرفیت، د کره او منسجمو پلانونو د نشتوالی، ضعیفې ملي پانګې، د تیرښکیلاک د ناوړه اغیزو، د موسساتو د ناکافي کارکرد او د خپلو منابعو په هکله د پوره معلوماتو، د هغو په وړاندې د مسئولیت د احساس او مطالعاتو د نه لرلو له امله نه یواځې دا چې دغه غوره سرچینې د دوی د پرمختیا لامل نه ګرځي، بلکې دوی ته لا ډیرې ستونزې پیدا کوي. په دغه مقاله کې به یې لاملونه او مثالونه ووایو:

- یو شمیر هغه هیوادونه چې د خپلو پریمانه طبیعي شتمنیو د استخراج او پلورلو له امله پوره بډای شوی دی، د بشپړې عیاشۍ او غفلت په لوری تللی دی. دوی د نړۍ د نویو کشفیاتو، اختراعاتو، ادبي پنځونو، هنری خلاقیت، کلتوری لاسته راوړنو، په نړیواله کچه سیاسی لابیګرۍ، په ریښتنی معنا مطبوعاتو، تخنیکی او صنعتی تولیداتو، علمی تجربو او دې ته ورته مسایلو کې ډیر وروسته پاتې او ګوښه شوي دي، که څه لری هم د نورو هیوادونو د متخصصینو د استخدام او د نورو هیواو د تولید شوی تکنالوژۍ له برکته دی. په دې برخه کې سعودی عرب یو مثال کیدای شی چې د بیخرته پریمانه پیسو او شتمنیو په لرلو سره سره، په پورتنیو مواردو کې د اسرائیلو،جاپان، سنګاپور، کوریا...په شان کوچنیو او بی سرچینو هیوادونو تر بریده نشی رسیدلای ، حال داچې شک نشته چې د عناصرو د تعویض یا هم د ځمکې له اتموسفیر بهر د نویو انرژیکی منابعو په کشف سره ممکن د دوی د یواځنی منبع(نفتو) ارزښت ډیر ټیټ یا حتا له منځه ولاړ شی، بیا به دغه ډول هیوادونه دتش لاس له امله، په ټولو ساینسی او سیاسی برخو کې نورو ته اړ وي. له دې پرته د دوی د شتمنو خلکو یو شمیر بوختیاوې ډیرې شرموونکی دي. پورته برخو کې ممکن د غفلت یو شمیر نور لاملونه هم وي، لکه جغرافیایی او اقلیمی شرایط، تعلیم او فرهنګی ماحول، تیر میراث او نور، خو یو عامل یې په طبیعي قیمتی منبع ډېره لګول دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

- په يو شمير هيوادونو کې د دوی پريمانه او قيمتی سرچيني د دې لامل شوی چې د ضعيف مديريت او بې برنامې اداري له امله ونشی کولای خپل ملی يووالی تامين او له منابعو ترلاسه کيدونکی عوايد، ټولو سيمو کې، په مساويانه او عادلانه ډول عمرانی پروژو کې د ټول هيواد د وګړو په ګټه ولګوي. د دې مثالونه د جنوبی او شمالی عراق د سيمو د خلکو يو دبل په وړاندي درېدل او د نفاق رامنځته کيدل، په ۱۹۶۰ کې له ګانګو هيوا څخه د دغه هيواد د يوه ولايت(کنګوليس) جلا کيدل (کله يې چې د جلا کيدو زيان وليد بيرته ورسره يوځای شو)، د نيجريا له هيواد څخه د دغه هيواد د يوی نفت لرونکی سيمې(بيافرای )جلاکيدل په ۱۹۶۷ کې او بيرته خپل هيواد سره يوځای کيدل و، چې د ډيرو فرصتونو د له منځه تګ او د ولسونو تر منځ د تشويش، زړه بدوالي او ناندريو لامل شو. په سيراليون کې (۱۹۹۲-۲۰۰۲م. پورې) د طبيعی منابعو پرسر کشمکش د ۷۵۰۰۰تنود مړيني، د ۲۰۰۰۰تنو د معيوبيت، د دوه ميليونو د مهاجرت اود ماشومانو د اوږدې روحي ناروغی لامل شوه چې د الماسو د فاجعې په نوم ونومول شوه؛
- که د منابعو سم مديريت ونشی، د سيمو د اوسيدونکو ترمنځ د پيغورونو او اختلافاتو لامل کيدای شی؛
- د يو شمير قيمتی طبيعی سرچينو لرونکو هيوادو تجاربو ښودلی چې د وخت په بهير کې هغه کسان لوړو مقاماتو او سياسی واک ته رسيدلي چې په يو شکل نه په بوشکل يې له قيمتی منابعو ناوړه استفاده کړې او په تاوتريخوالی سره د واک په ګدی ناست دي او وار په وار يې د ولس په وړاندې له مسئوليتونو ځان ژغورلی (لکه يو شمير عربی او افريقايی هيوادو کې)؛
- د ضعيف او کاواکه حکومت په حالت کې ستونزه هغه وخت په افت بدليږی چې د منبع سيمه د مافيا، قاچاقچيانو يا جګړه مارو لاس ته ولويږی، يا د محل بومی خلک په غير فنی او ناقانونی ډول هغه تر استفادې لاندې راولی. ځينی وخت آن د هيواد د تجزيې خطر رامنځته کوي؛
- ځينی وخت دولت د طبيعی منبع په عوايدو ډيره ډډه لګوي او په عايد لرونکو وګړو ماليي ته چندان پاملرنه نه کوی، دا علت د دې سبب ګرځي چې مولدين او متشبثين د ماليي له امله( په تيره بيا د لوړې ماليي له کبله)د لوړ عايد او زيات توليد خواته و نه هڅول شي، او داخلی توليد ته انګيزه کمه شي، نو ځکه د يو شمير طبيعی بدايو منابعو لرونکو هيوادو دوه پر دريمه برخه خلک په بيوزلی کې ژوند کوي.
- ځينی وخت د طبيعی منابعو له مدرکه مقاماتو يا بومی اوسيدونکو ته د زياتو عوايدو په ترلاسه کيدو سره مالی فساد رواج مومی؛
- د يو هيواد(په تيره د پرمختيايی او وروسته پاتې هيواد) دطبيعی منابعو لوی آفت د دوی لوري ته دښکيلاکګرو ځواکونو ورماتيدل دی، اصلاً د نوی استعمار او new colonialism مفکوره له همدې عامل څخه را پيدا شوې ده، يو شمير يې لکه په افريقاو منځنی ختيز کې ، خپل خام منرالی طبيعی ثروتونه اومنابع په ډيره ارزانه بيه پلوري، خو خپله صنعت نلری، له بلې خوا بهرنيو توليداتو سره خو بيخی سيالی نشی کولای، مثلاً د بولويا، مکسيکو او پيرو اقتصاد او ټول ژوند يواځې د دوی د خامو موادو صادرولو پورې تړلی دی ؛
- دغه ډول هيوادونه د دوی د خامو موادو د استخراج پر مهال پوروونه اخلی، خو کله چې بحران واقع شی او خام مواد يې بازار ونلری، بيا نو مجبور دی چې د اخيستل شويو پورونو ربح ورکړی، دا حالت دوی ته تر ټولو دروند تماميږی؛
- په عادی حالت کې دوی د خپلو خامو موادو په صدرو ډډه لګوی او د استراحت په حال کې وي، کومه احتياطی برنامه نلری، ذخايرو ته پاملرنه نه کوي، بيمې ته پام نه کوي، پرعايداتو تصاعدی ماليانو ته يې پام نه وي او موثر بانکی سيستم هم نه لري، نو ځکه د رکود په پيښېدو سره پريشانی سره مخامخ کيږی؛
- په دغه ډول يو شمير هيواو کې د دوی دير لګښت په نظامی برخه باندی وی مثلاً سعودی عربستان د خپل ملی عايد څخه په سلو کې لس اضافه مصرف په وسلو باندې کوی، حال دا چې په امريکې او ګڼ شمير اروپايی هيواو کې د دوی د ملی عايد صرف ۳-۴ سلنه په نظامی برخو کې لګيږی.

له دې بحث او دلايلو څخه موخه دا نده چې طبيعی منابع ورتو يا يې خامخا يو هيواد ته خطر، زيان يا افت وبولو، بلکې مهمه داده چې طبيعی منابع د ثروت او د ولسونو د نيکمرغی په توګه وپيژنوو هغه بايد مديريت کړو، پاليسی او ستراتيژي ورته ولرو او د هغود مالکيت او د راتلونکی مسئوليت منلو احساس موجود وی، له هغو څخه د يوې پانګې په توګه استفاده وشی، پرته له دې چې له کمی يا کيفی پلوه زيانمني شي. يعنی د پانګی له ګټې بايد استفاده وشی، خو اصلي پانګه بايد سالمه او ثابته راتلونکو نسلونو ته محفوظه پاتې شي. هغه هيوادونه چې خلک يې د ويښتيا او روڼتيا پړاو ته رسيدلي او د ملی شعور کچه يې اوچته ده، دوی ته د دوی منابع افت نه، بلکې شتمنی اوهوساينه ده. اصلاً دغه بحث په اقتصاد، سياست، پاليسی جوړونه او حقوقو کې د ملی شتمنيو په هکله د خبر ورکوونکی او انګيزه ورکوونکی بحث په توګه مطرح کيږی. پرمختللو هيوادونو منابع د خپلو هيوادونو د راتلونکو نسلونو يو امانت بللی او هغوی ته يې په صحيح او سالم ډول دسپارنی دنده منلي ده. وروسته پاتې ټولنو نه يواځې دا چې د خپلو طبيعی منابعو په هکله مطالعات او څيړني ندی کړي، بلکې په دې برخه کې بې توپيره دی. دوی خپلو خلکو ته په دې برخه کې کوم احساس او انګيزه نده ورکړی او نه يې هم دمديريت کولو لپاره مهارتونه روزلی دی. يو شمير هيوادونه لکه ناروی، ماليزيا،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

استرلیا، بوتوسانا، اندونیزیا او چیلی دې برخه کی ډیر کامیاب ګامونه اوچت کړی دی. دوی له فساد سره د مبارزی بنسټونه فعاله کړي، د طبیعی منابعو د شتمنیو د ساتنی مسئولیت یې منلی، ښه مدیریت او ملی ماهر کادرونه یې ورته روزلی، دخلکو پوهاوی کی یې زیار ګاللی ، مطبوعات یې موظف کړی، طبیعی منابع یې د قانون نظم لاندی راوستی دی او دهغو ساتنه یې خپله وجیبه بللې ده.

افغانستان د خپلو طبیعی شتمنیو له پلوه یو بډای هیواد دی. دغه هیواد نه یواځې د کانونو له پلوه (چې ارزښت یې تر دري ترلیون ډالرو تخمین شوی)، شتمن دی، بلکې د اقلیمی او وحشی ژوند د تنوع، د لمر د وړانګو، باد، سیندونو او خوړو اوبو، کرنیزې ځمکې، څړځایونو او ځنګلونو له پلوه یو بیساری هیواد بلل شوی دی. افغانستان د مندلیف د جدول تقریباً ټول عناصر لري. یواځې د تیرو ډولونه یې له ۲۰۰ ډولو څخه زیات دی. په کال کې ۲۷۰ ورځې لمر لری!! او د سیندونو جریان یی یوه ثانیه کی تر ۷۰میلیارد مکعب مترو اوړی. افغانستان به شاید د خپلو نورو منابعو لکه کانونو، ځنګلونو، څرځایونو، لمر، باد، وحش او ځمکو له لحاظه لعن او ګواښ سره مخامخ نه وی، خو د راتلونکی عصر د تر ټولو قیمتی اقتصادی مادې، یعنی روانو اوبو او سیندونو له لوی خطر سره مخامخ دی. که د افغانستان حکومت او ملت په دې هکله ځان بیدار او هوښیار نه کړي، نوپه ډیر نازک حالت کی دي. له دې پلوه افغانستان د یو، دوه نه، بلکې تقریباً د دوه نیمو ګاونډیو له خوا برید لاندی دی او اوبو ته یې سترګې نیولی. دغه ترټولو قیمتی اقتصادی منبع هغه وخت ورڅخه ترلاسه کولای شی چې دا هیواد په اوږدو جنګونو، د خرافاتو ترورېځو، د لوږې تر تهدید، د جهل زولنو، د اوهامو او خرافاتو تر تیارې لاندې او د نفاق او تعصباتو په توپانونو کی را ګیر کړی. خلک یې له تعلیم بی برخی او حکومت ثبات ته پرې نه ږدي، جعلی سیاسیونو ته رشوتونه ورکړی او د ملی خوځښتونو او د شعور د وینبیدو مخه ونیسی، د تطمیع، تخدیر، تبلیغ، تهدید، تحقیر، تکفیر، تذویرله وسایلو کار واخلی او ملت دتباهی کندې ته وغورځوی. حال دا چې دا یو هم د ثواب لپاره نه، بلکې د دوی د اوبو لپاره دی. په دې ډول د هوښیارو ملتونو په لاره تلل به مو د نیکمرغی خواته بوځي، خو غفلت به مو له خپلو طبیعی منابعو را ته افت جوړ کړی( خدای پاک دې داسي ورځ نه روالي او که راغلی وي، خدای دې ژر تیره کړي). موږ ډاډه یاستو چې اوس د افغانستان نوی نسل یو هوښیار او بیدار نسل دی، دوی خپلې منابع (په تیره سیندونه)مطالعه کړي او د هغو په ارزښت پوهیږی، د هغو مدیریت ته ځان چمتو کوی او پالیسی او ستراتیژی ورته زده کوی. د دوی په همت به د دغه هیواد دغه منابع آفت نه، بلکی افغانانو ته نعمت وګرځي.

پای

Dodyal1@yahoo.com


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ